
خپلواکي په زاريــو نــه ګټل
کيږي بلکې د وينــو قربــاني
غواړي او افغانــانو تــل پــه
خپلو وينو خپلواکي ګټلــې او
ساتلې ده

مولوی محمد يعقوب مجاهد



# دفاع

د ملي دفاع وزارت خپره نيز ارګان

سال ۱۴۴۵هـ ق ۱۴۰۲هـ ل | اسد مياشت / محرم الحرام مياشت | سال تأسيس ۱۲۹۹هـ ش


## سرليکنه

د افغانستان غيور او مېړني ولس په خپل اوږد تاريخ کې د تل لپاره د اشغالګرو په ضد ملي يووالی ساتلی او د يرغلګرو پر وړاندې پاڅون کړی دی، د علماوو په فتوی يې باور او عمل کړی دی، د علماوو په مشرۍ کې يې د هيواد د ازادۍ لپاره سپېڅلی جهاد کړی دی او په پايله کې يې يرغلګرو ته ماتې ورکړې ده.

د هيواد د خپلواکۍ او يرغلګرو د ماتولو لپاره يې له هيڅ ډول قربانيو دريغ نه دی کړی، تل يې د هغوی د جبر په وړاندې خپلې سينې سپر کړي او په مېړانه يې خپلواکي ترې اخستې ده.

افغانانو د خپل مېړني تاريخ په اوږدو کې ډېرو يرغلګرو ته شکست ورکړی او په تاريخ کې يې داسې ډېرې ورځې ثبت کړي چې هغه د خپلواکۍ په نامه ياديږي.

له دې تاريخي ورځو څخه يوه هم د اسد ۲۸ مه ده چې په دې ورځ يې له انګرېزانو څخه خپلواکي اخستې او هغوی چې په يو شوم هدف دې پاکې خاورې ته ناپاک قدم راوړی و، خپل وروستی عسکر يې په همدې ورځ له دې سپېڅلې خاورې څخه ووېست.

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت خپلو زړورو مجاهدينو او اسلامي ملي اردو هر فرد ته د دې ورځې تاريخ وريادوي، تر څو له دې ورځې د خپلواکۍ ارزښت وپېژني، د ازادۍ احساس ولري، د دې خپلواکي د ساتلو فکر ولري او نوی کوول مو د راتلونکي لپاره هم د دې ورځې ارزښت په خپلو زړونو کې وساتي.

زموږ د تاريخ هره ځلانده بېلګه د اسلامي ملي اردو د هر فرد لپاره له پندونو ډک درسونه لري، له دې څخه د خپلواکي شعور او احساس اخلي، د خپلو پخوانيو لار تعقيبوي، له ستونزو سره مبارزه زده کوي او د هغوی د قربانيو په نتيجه کې ګټلو وياړونو قدرداني زده کوي.

افغانان هيڅ‌ا ته تسليمېدونکي نه دي، نه به په دين معامله وکړي او نه به يرغلګرو ته اجازه ورکړي چې په دې پاکه خاوره يرغل وکړي.

د افغانانو اتلولۍ، سرتېريدنې او د يرغلګرو پر وړاندې دريدل د تير په شان د تاريخ په پاڼو کې درج او راتلونکي نسل ته د يووالي بيلګه وي.



د افغانستان عزتــمنــد ولس اوږه په اوږه د خپلو زړور بچيانو سره د هيواد د ځمکنۍ بشپړتيا او خلپواکۍ څخه ساتنــه کوي.

ترڅو چې يو افغان وي تل به دا افغانستان وي.

## ليدنې

### د ملي دفاع سرپرست وزير د ۲۰۷ الفاروق قول اردو څخــه ليدنه وکړه

د ملي دفاع سرپرست وزير مولوي محمد يعقوب «مجاهد» د هېواد لويديځ زون سفر په ترڅ کې د ۲۰۷ الفاروق قول اردو له چارواکو او منسوبينو سره يې وليدل.

په دغه ليدنه کې د ملي دفاع سرپرست وزير پر نظام جوړونه او ښې حکومتولۍ د خبرو په ترڅ کې وويل: «په هېواد کې د يوې منظمې، مسلکي او خپلواکې اردو لرل د اسلامي نظام او افغانستان د ديندارو خلکو له موخو څخه وو، چې له نيکه مرغه اوس دغه ارزښتونه شتون لري» د ملي دفاع سرپرست وزير د خپلو خبرو په دوام زياته کړه:«هغه کسان چې غواړي له اسلامي اردو سره يوځای شي، د هېواد ملي ګټو او اسلامي ارزښتونو ته ژمن وي». په‌داسې حال کې چې د ملي دفاع وزارت مشرتابه، چارو د لا ښه ترسره کولو، په اسلامي اردو کې د نظم او دسپلين په موخه خپلو قطعاتو او جزوتامونو ته لازمې سپارښتنې کړې دي.

### د لوړو زده کړو وزير د ځانګړو ځواکونو فرقې د عالي زده کړو له ښوونځي څخه ليدنه وکړه

د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد "نديم" او ورسره د ملي دفاع وزارت د ستراتيژيکو اړيکو او عامه چارو مرستيال ملا فقير محمد درويش د ځانګړو ځواکونو د فرقه د عالي نظامي زده کړو له ښوونځي څخه ليدنه وکړه. د لوړو زده کړو سرپرست وزير د ځانګړو ځواکونو د فرقه له مرستيال، استادانو او ګڼ شمير نورو مسؤلينو سره د پرمختګ او پر مختللو نظامي ښوونې او روزنې په هکله لنډې خبرې وکړې. او زياته يې کړه: «الحمدالله اوس په ټول افغانستان کې اسلامي نظام نافذ دی او دا د الله تعالی يو ستر نصرت دی چې د مجاهدينو او د افغانستان د خلکو نصيب يې ګرزولی؛ موږ ټول بايد د دغه ستر نصرت شکرانه ادا کړو او د دې سپيڅلي نظام د بقا لپاره نورې ستړياوې او تکليفونه هم وګالو ترڅو وکولی شو په مسلکي توګه د خپل هيواد او خلکو ساتنه وکړو» په پای کی د ځانګړو ځواکونو مرستيال مولوي ممتاز احمد "عمري"د خپلو خبرو په ترڅ کی د لوړو زده کړو د وزير او ورسره مل پلاوي له راتګ څخه مننه او قدرداني وکړ.

إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَاللّٰهِ أَتْقَاكُمْ. الآية

بې شکه په تاسې کې الله ته هغه ډېر غوره دی چې په تاسې کې ډېر تقوادار وي.

اللهُمَّ إِنِّيْ أَسْئَلُکَ الْهُدَی وَالتُّقَی وَالعَفَافَ وَالغِنَیَ. الحديث

اې خدايه! له تا هدايت، پاک لمنې او د زړه غنا غواړم.

### مجاهده وروره!

ترانې او اشعار اورېدل د جهادي جذبې په ژوندي ساتلو او د خستګي په له منځه وړلو کې مهم نقش لري، خو په کثرت سره اورېدل يې له ګټې تاوان زيات لري، په اسلام کې د هر شي حدود معلوم دي، علماء کرام وايي دومره زياتې ترانې ويل او اورېدل ناروا دي، چې اللّٰه تعالی د عبادت، د علم د زدکړې، د قرآن کريم د تلاوت او نورو مهمو کارونو مانع وګرځي. له حضرت ابو هريره رضي اللّٰه عنه څخه روايت دی چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: تاسې کې که د يو چا ګېډه له داسې زوو ډکه شي چې د مرګ سبب يې وګرځي، له دې غوره ده چې له شعر څخه ډکه شي. رواه البخاري

## رواني چارې

### د ملي دفاع وزير د يونفورم اړوند د وروستي حکم د تطبيق په غونډه کې د ستر درستيز مرستيال ګډون وکړ

د وسله وال پوځ ستر درستيز مرستيال حاجي مالي خان "صديق" په داسې حال کې چې د ملي دفاع وزارت سرمفتش مفتي لطيف الله "حکيمي" يې هم ملتيا کوله، نن د ملي دفاع وزارت د حمايې او امنيت لوا په قوماندانۍ کې د يونفورم د اغوستلو په اړه د رهبرۍ د وروستي فرمان د تطبيق مراسمو کې په نظامي يونفورم سره ګډون وکړ.

د ستر درستيز مرستيال د اسلامي ملي اردو د نظامي يونيفورم په اغوستلو کې د مجاهدينو د اطاعت او فرمانبرداري قدرداني وکړه او د هر پوځي افسر۔ لپاره يې د اسلامي پوځ د نظامي يونيفورم اغوستل ضروري وګڼل. دا په داسې حال کې ده چې د ملي دفاع وزارت رهبري د يوه ليکلي فرمان له لارې د اسلامي پوځ د ټولو قطعاتو او جزوتامونو مجاهدينو ته امر کړئ چې په ادارو او د خپلو مسؤليتونو په ځای کې د نظم د ټينګښت په موخه خپل نظامي يونيفورم واغوندي.

### د ۳۱۳ مرکزي قول اردو منسوبينو د ارغندي سيمه کې د سيلابونو راوتلو له امله هيوادوال وژغورل

د ملي دفاع وزارت اړوند ۳۱۳ مرکزي قول اردو د لومړۍ لوا انجينري او طبي پرسونل د کابل ولايت شپږمې ناحيې اړوند ارغندي عليا په بادام سيمه کې تيره شپه د سخت سيلاب راوتلو له امله د خپلو ګرانو هيوادوالو د ژغورنې په موخه هلې ځلې وکړې؛ دوی د پېښې ځای ته رسېدلي او د هلو ځلو په پايله کې د يوه ماشوم په ژغورلو بريالي شوي او لا هم هڅه کوي، چې تر ځمکې لاندې بند پاتې کسان او د شهيدانو جسدونه ومومي. د ملي دفاع وزارت تخنيکي او روغتيايي ټيمونه په ټولو ولايتونو او سيمو کې د خپلو ګرانو هېوادوالو په خدمت کې دي او هڅه کوي چې ژر تر ژره د خپلو ګرانو هېوادوالو هر اړخيزه پاملرنه وکړي.

### ۶۵ تن مجاهدين از قوماندانی تعليمات مشترک محاربوی حضرت عبدالله بن مسعود فارغ شدند

به تعداد ۶۵ تن مجاهدين از قطعات و جزوتام های مختلف وزارت دفاع ملی که ۴۸ تن آن از مکتب پشتيبانی محاربوی و ۱۷ نفر از کورس سيملاتور توپچی قوماندانی تعليمات مشترک محاربوی حضرت عبدالله بن مسعود فارغ شدند.در اين مراسم قوماندان تعليمات مشترک محاربوی مولوی محمد هاشم "حذيفه"مسؤلين و منسوبين آن قوماندانی اشتراک داشتند.

مسؤلين به اهميت و ارزش اعداد پرداختند و افزودند تحصيلات تخصصی ارائه شده به شما امانت امارت اسلامی است و بايد از آن برای خدمت به نظام اسلامی نهايت استفاده نمائيد.

### په ۲۱۵ عزم قول اردو کې د ځانګړو ځواکونو جذب لپاره آزموينه واخيستل شوه

په ۲۱۵ عزم قول اردو کې د ځانګړي ځواک د شامل کيدلو لپاره له ۵۰۰ تنه مجاهدينو څخه د ځانګړو ځواکونو قوماندان محب الله نصرت "حاجي لالا" او ورسره مل پلاوي په حضور کې آزموينه واخيستل شوه. په ياده آزموينه کې به بريالي کسان له شرايطو پوره کولو وروسته به د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت په ځانګړي ځواک کې د روزنې او همدارنګه په اسلامي ملي اردو کې د خدمت لپاره شامل شي.

افغان دفاعي ځواکونو د خپلو نيکونو او غور نيکونو په شان پرديو او يرغلګرو ته د عبرت درس ورکړی دی.

# آزادي، خپلواکي او د هغې ساتنه





خپلواکی کلمه له دو کلمو څخه اخیستل شویده یو خپل او بل واک دي یو عالم وايي (یو کس تر هغه خپلواک دي چې نورو ته یې زیان ونه رسیږي یا دا چې د نور خپلواکی ته زیان ونه رسوي) خپلواکي یوه تعریف شوی کلمه ده، دولت د خلکو د استازي په توګه د دوی د خپلواکی ساتنې دنده په غاړه لري.

د ملتونو او هیوادونو تجربي ښیې چې آزادي او خپلواکي د ملي وفاق اوجوشش، متحد، یو موټی او پوه ملت، سوکاله، آزادو او برابرو وګړو په اتکا، با کفایته زعامت او ښه مدیریت، کارامده او د ولس په خدمت کې سالمې دولتي اداري، اسلامي ملي اردو او نورو نظامي او امنیتي کارامده دستګاه د موجودیت، د لوړدفاعي قدرت، غوړیدلی او ځواکمن ملي اقتصاد او مجربې دیپلوماتیکې دستګاه او په ملي کتو ولاړې فعالې دیپلوماسی، په صورت کې دفاع اوساتل کیږي. خپلواکي د الله(ﷻ) له لوري هغه عظیم او ستر نعمت او لورینه ده، چې په لرلو سره یې انساني ژوند او ټولنه ورځ تر بلې پرمختګ کوي اوپه برکت یې انسان د خپل ژوند د هیلو ثمره ترلاسه کولای شي. انسان آزاد زیږیدلی او د آزاد ژوند کولو حق لري. د ژوند خواږه او جواهر هغه مهال څرګندیږي، چې انسان بشپړه خپلواکي ولري. خپلواکي او آزادي د انسان په ژوند کې عظیم ارزښت او اهمیت لري، آن تر دې چې پاتریک هېنري له ناخپلواک ژوند څخه مرګ غوره ګڼه او آزدي یې د ژوند للمې ته شرکنده باران ګڼه.

د یو ملت تر ټولو ستره سرمایه د هغه ملت آزادي ده او هوسا آرامه او پرمختللی ژوند د آزادۍ پر مټ ترلاسه کیږي. زموږ ګران هیواد افغانستان، لرغونی تاریخ او زوړ تمدن لری. دغې خاورې ته د لرغونو تمدنونو د زیږیدو او د ودې ټاټوبي او زانګو وايي. پدې خاوره کې ستر فرهنګونه او دینونه را منځته، سره یو ځای شوي او غوړیدلي دي. همدې خاورې نه "د نیک پند، نیکی وینا اونیک عمل" غږ را پورته شوی دی او د دې ځایه د علم او فلسفې، ریاضي، نجوم، طبابت، عرفان، هنر او ادب مشالونو او سرغندویان را پورته شویدي. په دا خاوره کې استعماري اواستیلاګرو ځواکونو څو ځلې تیری وکړل، خو په نتیجه کې ځینو په همدې خاوره کې ماته خوړلې ده او همدلته خښ شوی دي، او ځیني په بي شرمه توګه فرار ته مجبور شوي دي. نو ځکه دغې خاوری ته "د زبر ځواکو هدیره" هم وايي. او د افغانستان دغه مهم او حساس (جیو پولیتیک، جیو ستراتیژیک او جیو ایکونومیک) موقعیت، د دې هیواد د اوسیدونکو په ملی او سیاسی برخلیک کې تل عمده او ټاکونکی رول درلودلی دی.

افغانستان په ۱۷۴۷ میلادی کال کې د احمدشاه دراني ترمشرۍ لاندې د معاصر دولت په تاسیس سره، سیاسي ملي هویت او ملي دولت رامنځته کړ.

کوم چې په ډیره لنډه کې په یوه ستره امپراطورۍ بدل شو، چې د مشهد نه تر کشمیره، ډهلي او د آمو د سیند نه تر عربي بحیرې، یې په یوه ستره ساحه باندی حاکمیت درلود. د بهرنی دخالت او د پردیو د یرغلونو اوپه دې خاوره باندې د تسلط لپاره د سترې لوبې په دوران کې، د استعماری ځواکونو د مقابلې او رقابت له کبله له منځه لاړه، په نتیجه کې په مستعمره او نیمه مستعمره هیواد بدل شو او د اوسنې نقشې شکل یې غوره کړ.

خو مبارزې دوام وموند او د افغانستان په آزادۍ او وطن مینو خلکو د پردیو د سیاسی سلطی پر ضد دا اوږده او بې ساری مجاهدت، مقاومت او قربانۍ په نتیجه کې د آزادۍ، خپلواکۍ او ملی هویت څخه دفاع وکړه، تر څو چه په ۱۹۱۹میلادي کال داګست په ۱۹ یې خپلواکي بیا تر لاسه کړه او د یوه خپلواک او ملي دولت بنسټ کیښودل شو. خو په دفاع اوساتلو کې یې پاتې راغلل، د بهرنۍ دخالت او د پرمختګ ضد ټولنیزو اوسیاسي کړیو د مخالفت او بغاوت په برابر کې ونه شوای کولای له ځانه دفاع وکړي اوماته یي وخوړله.

اوپه نتیجه کې دافغانستان په مقدراتو داسې کړۍ مسلطې شوې چې د آزادۍ، خپلواکۍ ټولې لاسته راوړنې یې تباه کړې او په هیواد کې د واک تشه (خلا) انارشي او کورنۍ جګړه را منځته کړله. هر دولت د نړیوالو اړیکو اوحقونو له مخې د ملي ګټو درلودونکي دي یعني د اقتصادي، سیاسي، او فرهنګي حقونو د تامین، ملي هویت ساتل، بقا او په خپل سیاسي برخلیک د تسلط لپاره هڅه او هاند کوي.

افغانستان اوس دا توان پیدا کړی دی چې خپلې ملي ګټې په اطمناني ډول وساتي او د نورو دولتونو سره د تساوي موقف، عمل وکاروي. په دې ډول لیدل کیږي چې افغانستان او افغان ولس په اوس کې هم د خپلې آزادۍ او خپلواکۍ د ساتلو او د هغه د اساسي موخو یعني د یوه پیاوړي اسلامی نظام، پایښت لرونکي او په ملي واکمنۍ متکي او ټولیزې پرمختیا ته متعهد او د پرمختللي دولت د رامنځته کیدو، جوړیدو او استقرار په ډګر کې د سترو چلنجونو او ستونځو سره مخ دی.

**مدبر**

## ... تبصره

امروز هیچ قدرتی در دنیا نخواهند توانست در مسائل کشور ما اعمال نفوذ و ملت و امارت اسلامی افغانستان را مجبور به پذیرفتن خواست های نامشروع شان کند.

افغانستان به طور غیر رسمی همزمان با مرگ نادرشاه در سال ۱۷۴۷ میلادی توسط احمدشاه درانی و تأسیس امپراتوری درانی شکل گرفت. البته محدوده‌ای متفاوت با محدوده امروزش داشت. از این تاریخ به بعد بخش‌هایي از افغانستان کم شد و بخش‌هایي بدان افزوده شد.

واژه افغانستان به عنوان نام یک کشور در سال ۱۹۲۳ و در قانون اساسی امان‌الله به تصویب رسید.

از زمان استقلال افغانستان در سال ۱۹۱۹میلادی، این کشور دو بار توسط امپراتوری بریتانیا اشغال گردید و تا زمـــان اعلان اســــتقلال در ۱۹۱۹ میلادی سیاست خارجی افغانستان زیر نظر مستقیم امپراتوری بریتانیا بود. سال ۱۹۲۳میلادی آغاز تاریخ مستقل افغانستان است.

اگرچه افغانستان هرگز بخشی از امپراتوری بریتانیا نبود، اما پس از امضای پیمان میان افغانستان و انگلیس در سال ۱۹۱۹میلادی، افغانستان استقلال خود را از بریتانیا به دست آورد. براساس این معاهده، روابط کاملاً بی‌طرفانه بین افغانستان و بریتانیا به وجود آمد. با وجود این‌که افغانستان بخشی از امپراتوری بریتانیا نبود، اما بریتانیا سه بار با افغانستان وارد جنگ شد.

اولین جنگ افغان و انگلیس در سال ۱۸۳۹ الی ۱۸۴۲ میلادی رخ داد و این جنگ باعث شکست متجاوزان هندی شد که رهبری آن به دست بریتانیا بود. جنگ دوم افغان و انگلیس در سال‌های ۱۸۷۸ الی ۱۸۸۰ رخ داد که در آن نیروهای بریتانیا شکست خوردند. پس از این جنگ، صفحه جدید در روابط میان افغانستان و انگلیس به وجود آمد.

راویان تاریخ نگاشته اند که امور روابط خارجی افغانستان را انگلیس های در کنترول داشتند اما در مقابل، انگلیس وعده کردند که از افغانستان در برابر روسیه و ایران محافظت کند.

در سال ۱۹۰۱ میلادی، حکومت نسبتأ اصلاح طلب روی کار شد و تلاش می گردید تا کشور را به سوی پیشرفت و ترقی سوق داده شود.

تحولات فکری در سطح منطقه بالای افکار و اندیشه مردم آزادیخواهی افغانستان نیز تاثیر گذاشته بود و سر انجام جنگ سوم افغان و انگلیس باعث شد که انگلیس کنترول روابط خارجی افغانستان را در سال ۱۹۲۱ میلادی دوباره به خود افغان‌ها واګذار کند.

در سال ۱۹۲۱ افغانستان حکومت وقت، با ایجاد سیاست خارجی با اکثر کشورهای بزرگ جهان روابط برقرار کرد. حکومت ده ساله آن زمان یک سلسله تغیيرات را هم در سیاست داخلی و هم در سیاست خارجی کشور به وجود آورد. بدون شک استقلال افغانستان براي همهٔ اقوام باهم برادر و برابر این سرزمین افتخار بسیار عظیم و بزرگ بوده و نماد ایمانداری غرور، غیرت و همت بلند آنان است.

همه ساله از این روز تاریخی توسط مردم باشهامت افغان گرامي‌داشت به عمل آمده و تجلیل مي شود.


تجلیل از این افتخارات تاریخي باعث ایجاد حس مشترک، تاریخ مشترک، درک و درد مشترک، همدلی و همسويي در میان اقوام ساکن در این وطن گردیده است. مسؤلیت تاریخی برای هر افغان ایجاب مي نماید که همهٔ ما دنبال یک هدف مشترک (افغانستان آزاد، مستقل و غیر قابل تجزیه) گام برداشته و براي دفاع و حفظ استقلال و تمامیت ارضي این سرزمین تلاش نمائیم و براي تحکیم پایه های نظام اسلامی، روحیه برادری و برابری را میان تمام اقوام ساکن در افغانستان نهادینه نموده و از عوامل فتنه، تفرقه و نفاق اجتناب نمائیم.

عقاید و باورهای اسلامی و دینی ملت مسلمان و مجاهد ما، یکی از عمیق‌ترین و باشکوه ترین باور هاست. ملت های سایر کشور های اسلامی به این حقیقت پی برده اند، که مردم با دیانت و سلحشور افغان، شهادت در راه خدا، مبارزه با اشغالگران و داشتن آزادی و استقلال را افتخار میدانند و در طول نزدیک به یک قرن بزرگترین قدرت های متجاوز و اشغالگر را به خانه های شان برگشتانده اند و به جهانیان ثابت ساخته اند که ملت افغانستان نسبت به اسلام، عقاید، احکام اسلامی و زندگی کردن در سایه ای آزادی، یکی از مؤمن‌ترین ملت های مسلمان جهان است.

بعلاوه شکست شرم آور آن هم سه بار، امپراطوری بریتانیا بر روی نقشه ای جهان خاتمه یافت، روس تزار به زانو در آمد، امپریالیزم خونخوار با متحدین اش دیگر تاب رویا رويي در برابر ملت مجاهد افغان از دست داد و بگونه ای بزدلانه با سرزمین دلاوران وداع کرد.

برای مردم مسلمان و مجاهد ما روشن شد که در سایه‌ی اسلام میتوانند زندگی آزاد و برخوردار از نعم معنوی و مادّی داشته باشند. این پایداری به اسلام عزیز، ایمان و باور مردم بود که جهاد کردند و ثمره اش پیروزی بر طاغوت و استقرار امارت اسلامی و نظامی بر پایه‌ی اسلام در افغانستان گردید.

استقلال یعنی اینکه ملت مسلمان و مجاهد افغانستان دیگر مجبور نیستند خواست های قدرت های بیگانه را قبول کنند.




**نیاکان و اجداد ما با درک شرایط و زمان که برخاسته از باورهای اسلامي و ملی آنها بوده است، در هر برهه ای از تاریخ از کشور و ارزش های اسلامی و ملی شان دفاع، حراست و پاسداری نموده اند.**

## د مجاهد خاطرې

زه د دفتري بوختیاوو ترځنګ کله کله یو نیم کتاب هم لولم او موخه مي دا وي چې دفتري کارونه مې له مطالعې لري نه کړي نن د کابل هوا تر نورو ورځو یو څه سره ده رسمیات هم ختم دي، په خپله کاري خونه کې ناست یم او د فرهنګي ملګري (جاوید افغان) د ناچاپ اثر (سفرنامې پاڼې مې مخ ته غوړیدلې. دا اثر ما ته افغان صاحب د څه لیکلو لپاره راکړی و خو لوستلو یې زه دومره اخیستی یم چې نه پوهیږم ؟ پر کتاب څه ولیکم ! ذهن مې د عجیبو کشمکشونو سره مخ دی هیڅ تمرکز نه شم کولی پر وطن مي د وحشت کیسي- مخ ته نیغې ولاړي دي. د سنګرد تشکیو شهیدانو ګلاب ګلاب خبری می بیا سترګو ته شوي. دي شبیر مي عواطف دومره وخیل چی خاموش پاتی یم د جګړه خیلی هېواد د ماشومانو اهونو راته د زړه ورغلي زخمونه یو وار بیا تازه کړل.

دلته خومره وحشت تیر شوی دلته د غربت او بیچارګی څه توره بلا حاکمه وه دلته نفرتونو د ژوند خورلت له افغانانو داسې تروړلی و، چې بیاد دفي خورلنی د حسن فکر هم ناممکن و تکان می و خور خپل تیر ژوند ته ستون شوی وم د بې کوری در به دری، لوږې تندې، سختیو، ویرژلو شپو تصویرونه مې له سترګو یو په بل پسې تیر شول. سترګي مي ومبلې او له ځان سره مې وویل باید په روان ژوند کې داسې څه وي چې تا کله کله تېر ژوند ته ورستون کړي. دا ښه وي انسان دقیق کوي او په پوهه کي يي یو څه ور اضافه کیږي ناسي هم باید د تیر ژوند په اړه کله کله فکر وکړئ ! دې حالت ته د افغان صاحب سفرنامې ورستون کړی وم فکر مي شو چې لمر په لویدو دی باید د کتاب په اړه خپل تاثرات ولیکم، سفرنامه د ادبیاتو هغه فورم دی چې اوږده مخینه لري هغه مهال چې رسنۍ نه وي نو له سفرنامو به خلکو د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره ډیره ګټه اخیسته، سفرنامه د سفر پرمهال د هغو تجربو پیښنو، اوربدنو او لیدنو ثبتولو یا

لیکولو ته وايي چې ي سفرکونکي ورسره مخ شوی وي. لیکوال هم د هېواد یو شمېر سیمو ته سفر کړی او د جهاد د مهال تجربې او د سترګو لیدلی حال یې له موږ سره شریک کړی ځکه یې سفرنامه بولم که څه هم په سفرنامو کې د پېښو ترڅنګ د سیمو د معرفی په اړه بشیر معلومات وي خو افغان صاحب په دې برخه کې ډېره هڅه نه ده کړې، که څه هم د ده قلم د دې چارې د ښه ترسرلوي توان لري، خو فکر کوم خپله یي دا کار نه دی خوښ‌ی حال دا چې باید د سیمو په اړه ین لوستونکو ته پوره معلومات ورکړي وای، به هر حال د کتاب پاڼی یو په بل پسي- اروم منظر کشی ته مي يې فکر ور و اوست دا برخه یې ډیره هنري ده چې د لوستونکي توجه جلبوي، دلته باید ووایم به هنري نثر کې لیکوال اړ دی چې د کلماتو په سمه توګه او په سم ځای کې د کارونی ترڅنګ منظر کشی نه ډېر پام وکړي، ځکه لوستونکي سنا متن لولي او دې متن کې باید دومره زور وي چې سړی فکر وکړي زه هم په هماغه ځای کې موجود یم. دلته د افغان صاحب د بېلا بېلو برخو څو لنډو جملو ته تم کیږم: ...

شبه وړاندې الهي رحمت (باران) شوی و، د پسرلي تري شمال او د غره له لوړو څوکو څخه د بلبلانو خوږو نغمو فضا نوره هم څو چنده ښکلې کړه..... له خیمې هاخوا د شنو ونو شاته یو اوږد پخوانی تعمیر لیدل کیږي چې اوس یې هم پر دیوالونو د بمبار اثار شته، د ټولګیو کړکی ماتې شوې او دېوالونو یې رنګ اړولی چې له لیري نه پکې خښتې ښکاري، په ډېرو ځایونو کې په اوسپنیزو څادرونو پټ شوي بامونه هم را خوځیدلي او پاتې شوني یې پر ځمکه هوار دي په دې دوو برخو کې موږ دوه تصویرونه ،ګورو، په لومړیو جملو کې د یوې ارامې نغمه ګرې او سمسورې سیمې ننداره کوو؛ خو په دویمه برخه کي بیا لیکوال را باندې د جګړه خپلې سیمې ننداره کوي او په دومره هنر دا تصویر موږ ته وړاندې کوي چې موږ پکې ځان حس کولی شو؛ همدا دیوه بریالی لیکوال کمال دی. دا خاطرات او سفرنامه تر ډیره په مرکو ولاړه ده خو دا مرکي یې ډېرې ښې تنظیم کړې دي چونه چې بي مستقیم نقل قول را خیستی هغه... **ادامه لري ۴صفحه**

## دغه ورځ د افغانستان د خلکو او راتلونکي نسل پر زړونو او ذهنيتونو کې د زړورتيا او ځان تېرېدنې نښه او تل پاتې ځای لري



**استقلال حاصل خون مردمی است که با پاهای برهنه و شکم های گرسنه در برابر متجاوزین و اشغالگران زمان دلیرانه ایستادند و از کشور، آزادی مردم و تمامیت ارضی افغانستان قهرمانانه دفاع و حفاطت کردند.**

# خپلواکي څنګه ساتلی شو؟

د هر هیواد د ملت او نظام لپاره د هغه هیواد خپلواکي ډېر زيات ارزښت لري او د دې استقلال د ترلاسه کولو لپاره هر ډول قرباني هم ورکوي، که څه هم د خپلواکۍ کټل ستونزمن دي او ډېرې ستړياوې ورته ګالل کيږي خو د خپلواکۍ له ترلاسه کولو يې ساتل ډېر ستونزمن دي. په دې اړه د هرې سيمې له بېلابېلو شرائطو سره د خپلواکۍ د ساتلو اصول او تګلارې هم توپير کوي، افغانستان د خپل تاريخ په اوږدو کې له بېلابېلو ښکېلاککرو خپلواکي اخستې او د دې په لار کې يې کڼ شمېر نه هېرېدونکې قربانۍ هم ورکړې دي خو سره له دې چې هر ځل يې په خورا ستړيا خپلواکي ګټلې همداسې يې په خورا اسانه له لاسه هم ورکړې ده، نو دلته اړينه ده چې د دې خپلواکيو د لاسه ورکولو عوامل او د ساتلو په تګلارو يې ژوره مطالعه او ډېر بحثونه وشي. تر کومه بريده چې ما په دې موضوع باندې غور کړی دی او د افغانستان تاريخ مې تحليلي لوستی دی، دې نتيجې ته رسېدلی يم چې افغانان په ځينو برخو کې له مؤثر فعاليت څخه پاتې راغلي وو.

### په نظام کې بلواکو ته ونډه ورکول

د شوروي يرغل له ماتې وروسته د جهادي تنظيمونو د مشرانو منځ ته د نورو هيوادونو استخباراتو لار پيدا کړه، د هغوی ترمنځ يې د نفاق او تفرق تخم وکرلو او د تل لپاره يې د دوی ترمنځ د يووالي بنسټ ختم کړ، تر دې چې د بيت الله شريف په انګړ کې يې سوګند وکړ خو په افغانستان کې يې هغه سوګند مات کړ. داسې بېلګې د افغانستان په تاريخ کې ډېرې موندل کيږي، نه يواځې د روسانو له ماتې وروسته بلکې د انګرېزي ښکېلاک پرمهال هم دا تجربې تکرار شوې دي. د امريکايي اشغال له ماتې وروسته هم د افغانستان دښمنانو هڅې پيل کړې چې د دوی ترمنځ نفاق واچوي، يووالی يې مات کړي، د ملي يووالي له منځه وړلو لپاره يې شل کاله د قوم او ژبې په نامه ملت پاشلی و، د ملي اسلامي حاکميت په لار کې يې بلا ډېر خنډونه ايښي وو، خو د الله تعالی په فضل د اسلامي امارت مشران په دې وتوانېدل چې خپل صف له اشرارو څخه خوندي کړي چې يووالی يې له منځه يوسي او بالآخره په يو ډول د نظام متن ته لار پيدا کړي. په همدې موخه يې د امارت يوه محکمه بدنه ماتوله او داسې منفي تبليغات يې خپرول چې ګواکې د اسلامي امارت د مشرانو او حقاني شبکې ترمنځ د واک د ګدۍ پر سر شخړې دي، د امارت په لومړنيو ورځو کې يې دا پروپاګند وکړ چې په ارګ کې د رئيس الوزراء محترم اقتصادي مرستيال ملاعبدالغني برادر اخند او د کورنيو چارو محترم وزير خليفه سراج الدين حقاني ترمنځ شخړه رامنځ ته شوې، سره له دې چې په هغو ورځو کې محترم ملاعبدالغني برادر په کندهار کې و او د کورنيو چارو وزير په کابل کې و، په پيل کې اسلامي امارت مشرانو له دې امله دې پروپاګند ته ځانګړې پاملرنه ونه کړه چې د محض درواغو له امله په غبرګون نه ارزېدل، البته کله چې د چېتيا له امله د ځينو اذهان مغشوش شول نو ملاعبدالغني برادر اخند حفظه الله مجبور شو چې ويډيو پيغام په وسيله د دې پروپاګند مخه ونيسي. کله چې دښمن له دې مايوسه شو نو بله هڅه يې پيل کړه چې د اسلامي امارت متن ته د خپلو لاسپوڅو لپاره لار وموي، هغه دا هڅه وه چې د ټولګډونه اصطلاح يې راپورته کړه او دا تور يې پورې کړ چې د نظام په بدنه کې يواځې علماوو ته ونډه ورکړل شوې ده او دا د افغانستان د ټولو اقشارو استازولي نه شي کولی، که اسلامي امارت غواړي په رسميت وپېژندل شي نو بايد ټولګډونه حکومت او کابينه جوړه کړي. سره له دې چې د دې نيوکې په غبرګون کې د اسلامي امارت ځواب ډېر معقول او منطقي و خو په دې سربېره هم نړۍ قناعت ونه کړ ځکه چې موخه يې استقلال له منځه وړل و. اسلامي امارت د دوی په ځواب کې وويل: زموږ حکومت ټولګډونه دی، ځکه چې په کابينه کې مو د افغانستان د ټولو ولايتونو او د ټولو اقوامو استازي شته، داسې استازي چې په خپل قوم کې رسوخ او ښه مخينه لري، هر يو د ټولو اقوامو او بشپړ افغانستان خادم دی او قوم پرستي باندې باور نه کوي. د دې ټولو نيوکو او ځوابونو برسېره د اسلامي امارت سره په سياسي ډګر کې مرسته ونه شوه او لا تراوسه هم په رسميت نه پېژندل کيږي، ځکه چې د دوی موخه دا ده ترڅو د اسلامي امارت په کابينه کې خپل لاسپوڅي ووينې.

د افغانستان اسلامي امارت د هيواد د خپلواکۍ لپاره ډېرې قربانۍ ورکړې دي، له همدې امله به دوی هيڅکله هم داسې چا ته په نظام کې ونډه ورنه کړي خوک چې د پرديو د ګټو لپاره د خپل هيواد ګټې قرباني کوي. د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع محترم وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد حفظه الله له يوې رسنۍ سره په مرکه کې د خبريال د دې پوښتنې (تاسې ولې په خپله کابينه کې د علماوو او امارتي خلکو پرته نورو ته ونډه نه ده ورکړې؟) په ځواب کې وويل: ځکه چې موږ ته خپل استقلال مهم دی او که په پيل کې وېش پر ګډ شي نو خپلواکي نه شي ساتل کېدلی، همدارز په بله مرکه کې يې وويل: کومو خلکو چې خپل ملت ته امتحان ورکړی او له هيواد سره يې جفا کړې ده نو موږ به هغوی ته هيڅکله په نظام کې ونډه ورنه کړو، ځکه چې اولس بيا پر هغوی باندې باور نه کوي او موږ ته هم اولس اجازه نه راکوي چې په نظام کې د هيواد غدارانو ته ځای ورکړو. د افغانستان اسلامي امارت مشران له پخوانيو تجربو څخه ګټه اخلي او هيڅکله به داسې چا ته په نظام کې ونډه ورنه کړي کوم خلک چې د هيواد خپلواکي له ګواښ سره مخامخ کوي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

لَايُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَّاحِدٍ مَرَّتَيْنِ. يو مسلمان بايد دوه ځله له يو غار څخه ونه چيچل شي. په دې حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت ته د بيدارۍ، ځرکتيا او هوښيارۍ درس ورکوي، که يو ځل مو چا ته امانت وسپارلو او هغه پکې خيانت، غدر او معامله وکړه، د بيا لپاره باور مه پرې کوئ، د افغانستان په تاريخ کې ډېر ځله داسې لاسپوڅو حاکميت ته لار پيدا کړې چې بيا يې د نورو د ګټو لپاره د خپل هيواد لوی ارزښتونه تر پښنو لاندې کړي دي، د نورو په مټ او ملاتړ يې واک ترلاسه کړی او بيا يې د هيواد له لويو ارزښتونو سره معامله کړې ده. د افغانستان اسلامي امارت د رسميت په ډګر کې د خنډونو يو لامل دا دی چې نړيوال قوتونه غواړي د نظام بدنې ته خپل لاسپوڅي ورسوي، د افغانستان په تړاو د هغو لاسپوڅو هر ډول منفي تبليغاتو ته نړيوال پوښښ ورکوي او د هغو په اساس اعلاميې هم جوړوي، البته د افغانستان اسلامي امارت چې د دې هيواد د واقعيتونو سره سم هر څه ويلي دي هغه يې له پامه غورځولي دي. له همدې امله د نړيوالو د غوښتنو په ځواب کې تل د اسلامي امارت چارواکي وايي موږ به هيڅکله هغو خلکو ته په نظام کې ونډه ور نه کړو، کومو خلکو چې خپل ملت ته امتحان ورکړی او پکې پاتې راغلي دي، دا اولس له تېر تاريخ څخه په تجربه اخستلو هماغسې خلکو باندې باور نه کوي.

### د ملي منافعو او مشترکاتو په خونديتابه سره ملي يووالی ساتل

د استقلال ساتلو، د نظام د استحکام، بقاء او ښې حکومتولۍ لپاره اړينه ده چې ملت په يوه خوله د نظام تر چتر لاندې خپلې موخې تعقيب کړي، دا هغه مهال کېدلی شي چې په لويو ملي مسائلو او مشترکاتو باندې ډېر تمرکز وشي، د مشترکاتو پر سر تنافس او د ملي مسائلو د خونديتابه لپاره عامه پوهاوی کولی شي چې د ملت ترمنځ د تفرق مخه ونيسي، د تعصب وړې پلمې کمزورې کړي او بالآخره ټول په يو ټغر راټول کړي. د ملي يووالي له امله حکومتولي موفقه کيږي، دښمن له دسيسو څخه مايوسه کيږي، په ټولنه کې ځان ته ځای نه شي موندلی او ټول به د يوې بدنې په څېر له خپل هيواد او نظام څخه ساتنه کوي. د افغانستان په تاريخ کې يوه لويه ستونزه دا وه چې د ملي منافعو منلی اتفاقي تعريف هم نه و شوی، يا ځينې مسائل د غربي فرهنګ په لړ کې داخل ته راغلي و چې د فکري جګړې په ډګر کې به د ابزارو په توګه استفاده ترې کېدله، ملت يې پرې وېشلی و او داسې څه يې په ملي مسائلو کې شمېرل چې په حقيقت کې ملي نه وو، په همدې بنسټ د افغانستان په تاريخ کې يو منلی او اتفاقي اساسي قانون هم رامنځ ته نه شو، هر حکومت په خپل حاکميت کې د پخواني حکومت بنسټونه او اساسي قانون له منځه وړی دی.

### د کورني او بهرني سياست لپاره روښانه او خپلواک مسير ټاکل

د استقلال ساتلو لپاره اړينه ده چې د هيواد کورني او بهرني سياست لپاره روښانه او خپلواکه تګلاره وټاکل شي، روښانه په دې معنی چې د يو نظام د نوعيت او مبنی په توګه د تعامل سرې او زرغونې کرښې پکې واضحې وي، اولس ته داډ او وضاحت وي چې تر کومه بريده يې د ارزښتونو ساتنه کېدلی شي، په کومو مسائلو تفاهم، په کومو معامله او په کومو تعامل کېدلی شي.

د افغانستان ملت مسلمان دی، په ديني ارزښتونو نه تفاهم کوي او نه هم معامله، البته د ديني اصولو په رڼا کې تعامل کولی شي، همداراز ځمکنۍ بشپړتيا د يو ملي ارزښت په توګه ټولو ته مطرح دی، چې په دې باندې هم تفاهم او معامله نه شي کېدلی، البته ځينې اقتصادي پروژې دي چې د معادنو او انکشاف په برخه کې معامله هم پرې کېدلی شي او د نړيوال مارکيټ سره سم تفاهم هم پرې کېدلی شي.

د دې ترڅنګ بايد په دواړو سياستونو کې خپلواکي ته جدي پاملرنه وشي، تر څو چې په دې مسائلو کې د نظام چارواکي د خپل ملت په استازولۍ په خپلواکه توګه پر مخه ولاړ نه شي تر هغو پورې د خپلواکۍ ساتل ستونزمن دي.

### د پياوړي سياست لپاره ژوره او مؤثره ستراتيژي درلودل

حکومتولي ډېر سخت کار دی، د حکومت د خپلواکۍ ساتلو لپاره اړينه ده چې په سياسي ډګر کې ژوره او مؤثره ستراتيژي ولري، ژوره په دې معنی چې هر اړخيزه وي، ټول مسائل پکې نغښتي وي، د هر ډول حالاتو سره ځان عيار کړي، د ټولو شته ستونزو د حل لارې چارې پکې وي، د راتلونکو اټکل شوو ستونزو د حل تضمين ورکړي، له ګاونډيو، سيميزو او لرې هيوادونو سره د مثبت تعامل روښانه تګلار پکې وي، د سيميزو ناسالمو رقابتونو څخه د ځان وېستلو لار پکې واضحه وي، د متوازن او بې پرې سياست روښانه مسير ولري او ټولو ته د قناعت وړ وي.

ادامه لري ۴ صفحه ...

**د ۲ صفحې پاتې برخه...**

انداز ځکه ډېر به دی چې د مرکی به رښتینولی باور نور هم زیاتیږي او هغه ځای کې چې غیر مستقیم نقل قول دی، خپله د لیکوال احساسات او عواطف یکې دومره زیات شوي دي چې کله کله توستونکی د شک پر پوله ودروي، که زه وای ما بیا په مرکو کې خپلو احساساتو ته دومره ځای نه ورکولو لکه افغان صاحب یې چې اغیزمن کړی دی ((... تا چې دومره کم عمری کې د ترونو او تره زامنو تویته او خپاره وجودنه ولیدل څه درد او احساس دې درلود؟ د خواب لپاره یې مخ را واړاوه داسې درد و چې ما یې خیال هم نه وکړی که یې چې دوی قبرونو ته بنکته کول داسې هیڅوک نه و چې سترګې بې وچې پانې شي. هدیره له یوې مخې سلګیو نیولې وه او داسې مې انګیرله چې له وجود سره سره مې شاوخوا ځمکه هم ریږدي...)) اوس که دې نقل قول له تم شو نو دا به په زغرده ووایم چې دا خبري پر کلیوال تنکی زلمی یا د لیکوال په وینا کم عمره ماشوم نه شی کولی دا هم نه وایم چې ګوندی دا خبري دروغ دي ادروغ نه دي ادلته تر دې بد وحشتونه تیر شوي خو الفاظ او احساسات د لیکوال له قلمه سرچینه اخلی که دا مکالمه د کرکتر با مرکه کوونکي له سویې سره سمه وای نو لا به یې رښتینولي ثابته شوې وه. تر دې ورهاخوا یوه بله مهمه برخه د دې اثر دا ده چې په تیر شل کلن جهاد کې یې د افغانو میندو او خویند و بارز رول مستند کړی دی او د هغو میندو کیسې یکې ځای شوي، چې د جهاد په لیکو کې یې بې شمیره قرباني ورکړې دي. داسې مستندي مرکې هم پکې شته چې له بسیاره د مجاهدینو د روغو وتلو پر سر میرمنو نذرونه ملی باید ووایم دا اثر د افغانستان د یو شمېر سیمو د شل کلن جهاد مستند تاریخ دی، سفر نامې د مختلفو موخو لپاره لیکل کیږي کومه موخه چې افغان صاحب يې لري په هغې برخه کې تر ډېره بریالی دی، زه ورته د کتاب د چاپ مبارکي وایم او په راتلونکي کې ورته د لا بریاوو هیله لرم. نور ستاسي او د کتاب د محتوا ترمنځ دیوال جوړیدل نه غواړم دا تاسي او دا هم کتاب.

مولوي احمد الله وثیق د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون لوی رئیس ۱۸ - جدي - ۱۴۰۱

**د ۳ صفحې پاتې برخه...**

مؤثر په دې معنی چې عملي وي، یواځې د کتاب په مخ پاتې نه وي، بلکې د شته شرائطو سره سم د تطبیق وړ وي، نړیوالو ته د قناعت وړ وي، د هیواد کټې پکې ترلاسه کېدلی شي، د هیواد ګټه پکې یقیني وي او په دې د اولس د ټولو پرګنیو باور او قناعت وي.

**د شهیدانو د قربانیو موخې او ارمانونه**

کله چې یو ملت د هیواد د ازادۍ لپاره قرباني ورکوي هلته د خپلواکي ګټلو ترڅنګ ځینې نور اهداف هم ټاکي، کله چې بریا ترلاسه کوي نو د ملت هر فرد په طبعي ډول د خپلو موخو غوښتنه کوي، دا به یا شعوري او غیر شعوري وي، یا به یې تعبیر کیږي او یا نه، خو د ملت هر فرد په زړه کې له خپلو چارواکو دا هیله او غوښتنه لري چې زموږ ډېری خلک د ځینو ارمانو لپاره قربان شول، هغه ارمانونه ولې موږ ته نه پوره کیږي؟ ایا مسیر مو غلط و؟ ایا په خپلو کړنو کې رښتوني نه و؟ خو د مړ او قربان شوو د مسیر په اړه هیڅوک د ملامتیا قضاوت نه کوي، بلکې ژوندي چې د هغوی د ارمانونو ساتونکي وي پر هغوی نیوکې کوي چې تاسې یې د ارمانونو په ساتنه کې پاتې راغلي یئ، رښتوني او امین نه یاست. له همدې امله بنایي د نظام چارواکي ځینې مهال د خپلو شهیدانو د ارمانونو یادونه وکړي، د هغوی د پوره ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې او عملي اقدامات وکړي، کله چې یې په مخ کې خندونه راځي نو د هغوی په اړه دې اولس ته ډاډ ورکړي خو هڅه دې وکړي چې د خلکو اذهانو ته سوء تفاهم لار پیدا نه کړي، تر څو باور یې وساتل شي. تر څو پورې چې د خپلواکۍ د لارې د شهیدانو یاد ژوندی وي تر هغو به په نوي نسل کې د خپلواکۍ ارزښت خوندي وي، د راتلونکي لپاره به د خپلو مشرانو د ارمانو د ساتلو په پار نورو یرغلګرو او دښمنانو سره جګړې او جهاد ته چمتو وي او په کلکه به یې ساتنه کوي. په داخلي عوائدو پالل شوی پیاوړی او خپلواک دفاعي ځواک چې سالمه رهبري هم ولري د یو هیواد لپاره دفاعي ځواک ډېر اړین دی، له دفاعي ځواک پرته د خپلواکۍ، امنیت او نظام ساتنه نه کیږي، خو دفاعي ځواک هغه مهال د دې ارزښتونو ساتنه کولی شي چې درې ځانګړنې ولري:

**۱ـ په خپلو عوائدو پالل شوی وي**

که یو دفاعي ځواک د نورو له لوري تمویل وي حتماً به د هغوی موخې هم تعقیبوي، ځکه چې متل دی، وایي: نان دهد فرمان دهد، څوک چې ډوډۍ ورکوي امر هم کوي او که د یو هیواد دفاعي ځواک د نورو موخې هم تعقیب کړي نو خپل ارزښتونه نه شي ساتلی. داسې ډېرې بېلګې لرو چې دفاعي ځواک د نورو له لوري تمویل شوی وي او بیا یې د خپلو ارزښتونو په وړاندې فعالیت کړی وي، لکه د مصر پوځ چې د نورو په لمسون د خپل اولس ټاکلو چارواکو په ضد پوځي کودتا وکړه، محمد مرسي یې له خپل زوی سره په زندان کې ووژل. د ترکیې اولسمشر رجب طیب اردوغان د اولس په رایو واک ترلاسه کړ خو پوځ یې د امریکا په لمسون پوځي کودتا پرې وکړه. دا ځکه چې د دې ځینو هیوادونو په دفاعي ځواکونو باندې امریکا لګښتونه کوي له همدې امله یې ځینې مهال موخې هم تعقیبوي.

**۲ـ خپلواک به وي**

که دفاعي ځواک د یو چا تر ولکې لاندې وي نه شي کولی په ښه توګه د خپلو ارزښتونو څخه ساتنه وکړي، له همدې امله د دفاعي ځواک استقلال ډېر مهم ګڼل کیږي. د دفاعي ځواک د کړنو استقلالیت هغه مهال حفظ کېدلی شي چې ټول منسوبین یې په اسلامي او ملي روحیه زده کړې ورکړل شي، د یو مسلمان او صادق افغان په توګه د وطن په مینه وروزل شي او د خپل هیواد د ازادۍ په لر کې یې ژمنتیا ښودلې وي.

د افغانستان اسلامي امارت مجاهدین هغه زړور اتلان دي چې د هیواد د خپلواکۍ لپاره یې د امریکایي یرغل په وړاندې نه ستړې کېدونکې او نه هېرېدونکې قربانۍ ورکړې، نه یې د هغوی د زندان پروا کوله، نه یې د ټانک او طیارې، نه یې د بمبار او پرمختللې وسلې او نه یې هم د غربت، لوږې او تندې احساس کولو، بلکې د خپلو سپېڅلو موخو د ترلاسه کولو لپاره یې د شهادت سپېڅلی مرګ یو ارمان ګڼلی و، همدا زړور مجاهدین د اسلامي امارت یوه لویه ځانګړتیا ده.

**۳ـ سالمه رهبري**

هر دفاعي ځواک سالمې رهبرۍ او مؤثر قیادت ته اړتیا لري، که رهبر په خپلو ځواکونو کې رسوخ، عقیدت، درناوی او اطاعت ونه لري د هغه ځواک څخه لویه توقع بې ځایه ده، که یو دفاعي ځواک هر څومره خپلواک او زورور وي خو سالمه رهبري ونه لري نو داسې ځای ته به یې جګړې ته وهڅوي چې هغه به په نظامي لحاظ جګړې ته چمتو نه وي، یا به یې وسائل او تکتیک د هغه ځای سره په قوت کې برابر نه وي او یا به هم داسې وي لکه په سایبیریا کې چې ډېر ځواکونه له یخنۍ مړه شول.

د افغانستان اسلامي امارت یوه بله ځانګړنه دا ده چې رهبري یې سالمه ده، د دوی اهداف سپېڅلي دي او موخې یې د دیني اصولو سره عیار کړې دي، د دوی لپاره د خپلو ځواکونو د هر فرد ژوند ارزښت لري او خپل هر یو فرد د نورو له پوره ځواکونو سره نه برابروي.

مفتي محمد "بشار"

**د سپېڅلو کلماتو سپکاوی لویه ګناه ده او ستاسي ایمان او وجدان تر سوال لاندې راولي.**

## د حضرت ابو عبیده بن جراح ملي دفاع پوهنتون څخه ۱۷۵ تنه مجاهدین فارغ شول

د ملي دفاع وزارت اړوند حضرت ابو عبیده بن جراح ملي دفاع پوهنتون د عبداللّٰه ابن عباس د حرب له اکاډمۍ څخه د سیمیزو قطعاتو او جزوتامونو ۱۷۵ تنه مجاهدین د شرعي دورې، شرعیاتو او اداره منجمنټ په څانګو کې له دوه میاشتني مسلکي زده کړو څخه وروسته نن د یو لړ مراسمو په ترځ کې فارغ شول. یادو مراسمو کې د تعلیماتو او پرسونل مرستیال مولوي باز محمد "حمیدي" د یاد پوهنتون قوماندان مولوي عبدالقیوم "الیاس" اوګڼ شمېر مسؤلینو او مشرانو ګډون درلود. مسؤلینو یادو فارغانو ته د لاربښونو ترڅنګ د اسلامي نظام د حاکمانو او مسؤلینو په صفاتو هر اړخیزې ویناوې وکړې او زیاته یې کړه چې دغه اسلامي موږ ته د زرګونو شهیدانو په قربانۍ لاس ته راغلی موږ باید له خیانت او منکراتو څخه ځان وساتو، یادو مجاهدینو ژمنه وکړه چې د هیواد په هر ګوټ کې خدمت کولو چمتو یو.

## فراغت ۸۸ تن مجاهدین از سمینار ارتقای ظرفیت ریاست مخابره ستردرستیز

به تعداد ۸۸ تن مجاهدین قطعات و جزوتام قول اردوی های مرکزی و ساحوی، پس از سپری نمودن آموزش های مسلکی روز گذشته از سمینار دوماهه ارتقای ظرفیت ریاست مخابره و تکنالوژی معلوماتی ستردرستیز وزارت دفاع ملی فراغت حاصل نمودند. مراسم فراغت این مجاهدین با اشتراک مولوی نصراللّٰه "منصور" رئیس ریاست انجینری، قاری محمد یاسین "ثاقب" معاون ریاست مخابره ستردرستیز، مسؤلان و سایر مجاهدین برگزار گردید. مسولان طی سخنانی فارغان را ضمن اینکه متوجه به مسولیت های شان نمودند، آنان را نیز به اطاعت از آمرین شان و دقت به وظایف و استفاده بهتر از مسلک در جهت خدمتگزاری به نظام اسلامی تاکید داشتند.

همچنان فارغان در پایان نیز تصدیق نامه دریافت نمودند.

## د کابل بامیان ولایت عمومي لاره د مسافرو پر مخ خلاصه شوه

د کابل او بامیان عمومي لاره د ملي دفاع وزارت ۲۲۱ شهید آفتاب فرقې اړوند پروان ولایت دویمې پلې لواء انجینرۍ ټیم په هلو ځلو د ترافیکو پرمخ خلاصه شوه. همدا راز د پروان ولایت سیاه ګرد ولسوالۍ کې د سیلابونو را وتلو له امله ګڼ شمیر خلکو ته ځاني او مالي زیانونه اړولي؛ چې د ۲۲۱ شهید آفتاب فرقې تخنکي او صحي ټیمونو په وخت سره سیمې ته ځانونه رسولي او ګڼ شمیر سیلاب ځپلي هیوادوال یې ژغورلي دي.

### د آزادۍ سمبول

شولې سمبول د ګـــران هېواد د ازادۍ طالبه
بس هســـکه وتړه شملـه سپینه پګـــړۍ طالبه

په خالي لاس ابـــر قدرت دې نن ټوټه ټوټه کړ
تا تـــربنه واخیسته په نره خپــــلواکۍ طالبه

چې راځرګند شولې په مېز د ملـنګی جامو کې
تا کـــړل حیران ټول یهودان د دې نـړۍ طالبه

ســـتړي مزل کې له کاروان سره خفه خفه وو
تا ســـــره راغللې پر مونږه خوشحالۍ طالبه

چې کله ولید اشغالــــګرو ستا همت او غیرت
شــــوله په عذر او ګونډو سپینه مانۍ طالبه

د تاریخ باب کــــې به دې لیکم په زرینو کرښو
هم به دې ســـتایم کارنامې او سرلوړۍ طالبه

درته ســـــلام زه حیدري! کوم په غبرګو لاسو
اتل اتل شــــــولې د قـــرن او پیـــړۍ طالبه

محمد آغا حیدري



### د اردو زلمکیه!

تاته در سپارل شوی موټر، اسلحه او ټول دولتي وسائط د بیت المال برخه ده او د بیت المال ساتنه ستا له لویو مسؤلیتونو څخه یو ستر مسؤلیت دی.
د مال په ډېرېدلو او د منصب په لوړېدلو باید په تا کې غرور او بې غوري پیدا نه شي بلکې لا ډېر د الله وېره په ځان کې پیدا کړه، ځکه چې مسؤلیت دې لوییږي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو عادت و چې څومره یې منصب لوړېدی او مال یې زیاتېدی هومره به یې د الله نه وېره زیاتېدله.
بناءً، درانه موټر بې ځایه مه ګرځوه، بې ضرورته یې مه څغلوه، یوه مرمۍ هم بې اړتیا مه فایر کوه، د خپل دفتر د مېز، څوکۍ او ټولو وسائلو څخه په کلکه ساتنه کوه، تر څو د قیامت په ورځ له سخت حسابه خلاص او بریالی شې.

مفتي محمد "بشار"

### د اسلامي ملي اردو له خپل مشرتابه څخه د اطاعت عملي بېلګه

نظامي یونیفورم د ملي اسلامي اردو د منسوبینو د نظم او ډسپلین ښکارندوني کوي د همدې لپاره د مخکې صادر شوي هدایت پر بنسټ د ستردستیز دحمایې او امنیت لوا له لوري د ملي دفاع وزارت او ستردرستیز د معاونینو او ریاستونو نظامي منسوبینو ته پوځي یونیفورم اکمال او توزیع کړل شوی دی.

۱- د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز د معاونیتونو او ریاستونو ټول نظامي منسوبین چې رسمي تعینات ولري د امر د تکثیر سره سم په منظم ډول د نظامي یونیفورم په اغوستلو مکلف دي.
۲- نظامي منسوبین دي د رسمیاتو د شروع څخه تر ختم پورې په ټولو دفترونو او نظامي تأسیساتو کې په نظامي یونیفورم سرد ملبس وي.
۳- د نظامي یونیفورم سره د ملکي البسوي لکه (خولۍ، څادر، څیلۍ او داسې نورو البسوي توکو) هم مهاله استعمال ممنوع دی.
۴- د ستردرستیز د اوپراسیون ریاست د قوتونو مدیریت دې د نظامي یونیفورم د درست استعمال او اغوستنې نظارت وکړي.

مسؤل مدیر: مفتي محمد "بشار"
موبایل نمبر: ۰۷۰۱۰۷۴۵۰
نمبر PBX: ۲۶۷۱۴۳۴
سکرتر مسؤل: عبدالاحد "مدبر"
د ملي دفاع وزارت ویب سایټ: www.mod.gov.af
ټویټر: twitter.com/MoDAfghanistan2
یوټیوب: youtube.com/@MODAfghanistan1
ټلیګرام: t.me/MoDAfghanistan2
واټساپ: دفاع وزارت نشراتي ګروپ

دفاع
د ملي دفاع وزارت نشراتي ارګان

ډیزاین او کمپیوز: عزت الله (محمدي)
تخنیکي همکار: خوشحال همت (بابکرخیل)

کتنپلاوي:
مولوي سمیع الله (ساویز)
مولوي محمدآقا (مسلم)
محمدآغا (حیدري)

چاپ چاري: اسلامي ملي اردو مطبعه
چاپ شمیر: ۱۰۰۰ پاڼې